مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد یار یار

۲۰۲۱/۰۱/۰۶

# مناجات

مـوږ د عشق په سـیـلابـونـو خدایه یوسه
تـلـفـات پــه مـیـلـیـونـونو خـدایه یوسه

مـلایــــان لــه یـوه مخـه شـهـیدان کـه
دوی په دې ښایسته مرګونو خدایه یوسه

طــالـــبــان د جــنــتــونــو سرداران که
ټول د حور پـه هوسونـو خـدایـه یوسه

مـحـرابــونــه، ممـبـرونـه لــر آرام که
واعظ غـبـرګ له غضبونو خدایه یوسه

مـوږ د سولي پـه جنت کي استوګن که
جـهـنم د جـهـادونــو خـــدایـه یــوسه

خـــدایه ستـا نـام و نـښان یې بد بدنام کړ
دا غـــازیـان لـه سنګرونـو خدایه یوسه

خدایـه ستا پــه نـوم مو یو عمر لمبه شو
نـــور مـــو موج کي د ګلونو خدایه یوسه

پـــر مـــوږ واچـوه غـدی د ښـایـسـتـونو
پــه چـپـاو مــو د رنـګـونـو خدایه یوسه

طـبـیـعـي آفـات د میـنـي را نـــازل کـه
مـــوږ پـه دغو تـوپـانـونو خدایه یوسه

زمـــوږ د زړه بـېـړی که ډوبه ښه ژوره
مــوږ د حسن پـــه موجونو خدایه یوسه

مـیـنـان خـولـه – خـوله که یو په بل کي
ګـــرد پـه دغو بــارانــونـو خدایه یوسه

۲۲ قوس۱۳۹۸



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ